مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د زمري ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د اگسټ شپږمه | ۴۱۷مه گڼه

# د دوحې مذاکرات؛

## سرچینې: له امریکا سره تر توافق وروسته پر موقت حکومت کار پیلېږي



۳

افغان سوله او سیمه ییزه نارضایتي

۲ مخ

د طالبانو او امریکایانو تر هوکړې مخکې تازه خنډ او د پاکستان په اوږو کې شگه

۲ مخ

په یوویشتمه پېړۍ کې د خپلواکۍ تعریف باید څه وي؟

۳ مخ

## سیاسیون: د حکومت لخوا د جوړ شوي پلاوي پر سر اختلافونه شته

د سولې په چارو کې د دولت وزارت شاوخوا یوه اونۍ مخکې اعلان وکړ، چې له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره یې د ۱۵ کسیز پلاوي ترکیب نهایي کړی، خو اوس پر دغه ترکیب اختلاف دی. له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره د دغه پلاوي د ترکیب یوه کاپي، چې رسنیو تر لاسه کړې، پکې د عبدالسلام رحیمي، حبیبې سرابي، شاه گل رضایي، عبدالحکیم منیب، محمد ناطقي، نادر نادري، عزیزالله دین محمد، حفیظ منصور، عالم خلیلي، عطاءالله لودین، انوارالحق احدي، باتور دوستم، عطاءالرحمن سلیم او رنگین دادفر سپنتا نومونه راغلي دي.
خو سیاسي احزاب وایي چې د حکومت له لوري له طالبانو سره د خبرو لپاره په دغه ۱۵ کسیز پلاوي کې تر ډېره حکومتي کسان شامل دي، چې ډېر سیاسي احزاب له دې ترکیب سره مخالف دي.
په ورته مهال پخواني طالب چارواکي وایي چې له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره باید یو ملي مرکچي پلاوی وټاکل شي.
دوی وایي، په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ تر توافق وروسته، طالبان بین‌الافغاني خبرو ته تیاری نیسي او داسې پلاوی باید جوړ شي، چې د ټولو اړخونو استازیتوب وکړي. له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره پر حکومتي پلاوي اختلاف داسې مهال دی، چې په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ خبرې برخلیک ټاکونکي پړاو ته داخلې شوې او په نږدې ورځو کې یې د توافقاتو د نهایي کېدو خبرې کېږي.

د خلاصون لارې شورا:

## حکومت باید د ټاکنو پر ځای سولې ته لومړیتوب ورکړي



۲ مخ

خپره


۴ مخ

## محمد حسن ولسمل

محمد حسن ولسمل پیاوړی سیاستوال، لیکوال او د هېواد ملي گټو ته ژمن کس و. هغه ویل، امریکا د افغانستان په گټه نه ده، له افغانستان سره د امریکا ملگري یوازې تر خپلو گټو محدوده ده، هېڅ باور پرې مه کوئ.




## کرنې وزارت: په ٦ میاشتو کې به په هېواد کې ۱۸۰۰سړې خونې جوړې شي



کرنې وزارت وایي، تر راتلونکو شپږو میاشتو پورې به په ټول هېواد کې ۱۸۰۰ سړې خونې د سبزیجاتو او تازه مېوو لپاره جوړې شي.
د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته وویل، افغانستان اوس د تازه مېوو او سبزیجاتو د تولید په برخه کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی.
نوموړی وایي: «دغه سړې خونې چې د مالي کال تر راتلونکو شپږو میاشتو پورې جوړېږي، په دې سړو خونو کې به رومیان، بادرنگ او دغه شان تازه مېوې په نړیوالو معیارونو وساتل شي».
د کرنې وزارت په داسې حال کې د دې سړو خونو د جوړېدو خبره کوي، چې تر دې وړاندې افغان بزگرو اندېښنې څرگندې کړې او ویلي یې دي چې که موسمي تولیداتو د ساتنې په هدف د سړو خونو د جوړولو په برخه کې مسوول چارواکي اقدام ونه کړي، په زیاته اندازه دغه تولیدات به یې له منځه لاړ شي.

## وزارت خارجه: گفت‌وگوهای قطر با پیشرفت‌هایی چشمگیر همراه است



در سومین روز گفت‌وگوها میان نماینده‌گان طالبان و امریکا در قطر، حکومت افغانستان از پیشرفت‌های چشم‌گیر در این روند سخن می گوید.
وزارت امور خارجه می‌گوید که پس از امضای توافق‌نامه میان امریکا و طالبان، گفت‌وگوهای میان افغانان آغاز خواهد شد و حکومت افغانستان برای آغاز این گفت‌وگوها تمامی آماده‌گی‌ها را گرفته است. در این میان، برخی از اعضای هیات گفت‌وگو کننده طالبان در قطر می‌گویند که پس از توافق صلح با امریکا، موضوع آتش‌بس در گفت‌وگوهای میان افغانان مطرح خواهد شد. نماینده‌گان امریکا و طالبان در قطر در چهارمین روز هشتمین دور گفت‌وگوهای شان در باره جزئیات توافق نامه گفت‌وگو می کنند. وزارت امور خارجه نیز از پیشرفت‌ها در این روند خوشبین است و از آماده‌گی‌های حکومت افغانستان برای آغاز گفت‌وگوهای میان افغانان اطمینان می دهد.
صبغت احمدی، سخنگوی وزارت امور خارجه در این باره چنین اظهار داشت: «در این گفت‌وگوها پیشرفت‌ها بسیار چشم گیر هستند و ما امیدوار هستیم که با پایان یافتن گفت‌وگوهای بین الافغانی ما به صلح برسیم». یک عضو هیات گفت‌وگوکننده طالبان با امریکایان می‌گوید که موضوع آتش‌بس در گفت‌وگوهای میان افغانان مطرح خواهد شد.
شهاب‌الدین دلاور عضو هیات گفت‌وگو کننده طالبان گفت: «آتش بس یک بحث مهم در گفت‌وگوهای بین‌الافغانی خواهد بود و در کنار آن قایم ساختن نظام اسلامی، تدوین قانون اساسی و پس از آن تنها آتش بس نه، بلکه جنگ هم در افغانستان انشاالله که ختم خواهد شد».

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریــځ

## افغان سوله او سیمه ییزه نارضایتي

په افغانستان کې د هند او پاکستان د نیابتي جگړې خبره له پخوا کېږي. پاکستاني چارواکو او سیاستوالو تل ویلي چې د افغانستان ستونزه تر هغو نه حل کېږي، څو چې د کشمیر ستونزه نه وي حل شوې. اوس چې د سولې په خبرو کې د پرمختگونو خبره شوې ده، یو ځل بیا په افغانستان کې د هند او پاکستان د نیابتي جگړې خبره گرمه شوې ده. تازه په کشمیر کې د هند او پاکستان ترمنځ تاوتریخوالی شوی دی. د پاکستان د ملي امنیت شورا په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي چې دوی د افغانستان د سولې پر چاره بوخت دي، خو هند غواړي په جمو او کشمیر کې د ستونزو د را پیدا کولو په واسطه د افغانستان سولې ته ستونزې جوړې کړي.
د افغانستان سوله ولې یو ځل بیا د هند او پاکستان ترمنځ له ستونزو سره تړل شوې ده؟
د افغانستان د سولې په روانه پروسه کې هند خنگ ته شوی دی او له همدې امله ناراضه ښکاري. ویل کېږي چې په کابل کې د سولې پر ضد د ځینو دولتي او نادولتي غړونو تر شا هم د هند لاس دی. پاکستان بیا په دې پروسه کې داخل دی او له امریکا سره په افغان سولې کې یوې بلې ژورې معاملې ته کېوتلی دی. امریکایي چارواکي په ظاهره له اسلام اباد څخه خوښ دي، پرله پسې امتیازات ورکوي او آن داسې ویل کېږي چې د سولې روانه پروسه د امریکا او پاکستان ترمنځ یوه نوې معامله ده. دا ښکاره ده چې د سولې ستره برخه د پاکستان پر محور را څرخي. همدې چارې هند ناراضه کړی او ښایي دا ادعا سمه وي چې هند غواړي له پاکستان سره په کشمیر کې ستونزې را پیدا کړي او د پاکستان پام د افغان سولې له معاملې بل لور ته واړوي.
په افغانستان کې د رښتینې سولې لپاره دا اړینه بلل کېږي چې ټول کورني، سیمه ییز او نړیوال اړخونه تر یوه بریده راضي وي. پکار ده چې هر لوری د برې احساس وکړي، نه دا چې څوک فکر وکړي دوی یې بایلي. وروستي بدلونونه همداسې دي چې هند فکر کوي په افغانستان کې دوی لوبه بایلي او ټوله هغه پانگونه یې پر اوبو لاهو کېږي چې اتلس کاله یې په افغانستان کې کړې ده. پاکستان بیا د برې احساس کوي، ځکه له یوه اړخه واک ته د طالبانو په رسیدو کې خپلې گټې ویني او له بله اړخه امریکا ترې راضي ښکاري. د هند ترڅنگ، ایران هم په دې معامله کې څنگ ته شوی او له همدې امله یې څو ورځې وړاندې ویلي وو چې د رښتینې سولې لپاره باید گاونډي هېوادونه په دې چاره کې رول ولري. د چین او روسیې اندېښنې هم شته او که پاکستان د دغو هېوادونو له خوښې پرته له امریکا سره یو اړخیز وړاندې ولاړ شي، نو چین او روسیه به هم ستونزې جوړې کړي.
د افغان ستونزې په حل کې که کوم لوری هېرېږي، څنگ ته کېږي او د بایللو احساس ورکول کېږي، نو سوله ستونزمنېږي. له همدې امله پکار ده چې ټول لوري په دې چاره کې ښکېل شي او هر څوک که د بریا احساس نه کوي، لږ تر لږه د بایللو احساس خو باید ونه لري.

## د طالبانو او امریکایانو تر هوکړې مخکې تازه خنډ او د پاکستان په اوړو کې شگه



لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

ویل کېدل چې پرون به د منځنۍ او سهیلي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیاله الیس ویلز د افغان سولې په اړه د خبرو لپاره اسلام اباد ته لاړه شي، څو له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې په برخه کې پر وروستیو پرمختگونو او خنډونو خبرې وکړي. له دې سره جوخت دې نیوز په نوم پاکستانۍ ورځپاڼې ویلي، چې د پاکستان د ملي امنیت شورا د عمران خان په مشرۍ په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې هند هڅه کوي، څو د افغان سولې خبرې گډوډې کړي، نو په همدې موخه یې په کشمیر کې د ځواکونو ځای پر ځای کولو ته ملا تړلې ده او هلته یې پر خلکو ظلمونه پیل کړي، څو د پاکستان پام له افغان سولې خپلې کورنۍ موضوع (کشمیر) ته واړوي. تر دې وړاندې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي هم د افغان ـ امریکا جگړې د حل یوه کیلۍ د کشمیر مسئله یاده کړې وه، چې په تازه گام کې له ټرمپه د کشمیر په کشاله کې د منځگړیتوب غوښتنه یې جدي او نوې هغه ده.
په تاریخي کچه د پاکستان مخینه او تجربه په افغان کشالو کې تل د ستراتیژیکي ژورتیا پر بحثونو ولاړه ده، هغه چې په لستوڼي کې د مار رول یې لرلی دی. د افغان شوروي جهاد او ملي مبارزو پر سر له امریکا سره له معاملو نیولې بیا په ۲۰۰۱ ز کال کې د (۸۸ ورځې تر کندهاره) او د مشرف کتاب (اور کربښې) د روایاتو پر بنسټ، کړنې د دغو دښمنانه تگلارو او زموږ په وینو، وژنو او تباهۍ کې ولاړو سیاستونو بې شرمه بېلگه ده.
اوس چې د امریکا ـ افغان جگړې په روان کړکېچن ځپرکي کې افغان طالبانو د هغو پروپاگندونو او دسایسو خلاف چې فکر یې کېدو طالبان د پاکستان لښکرې دي او د هېڅ خپلواک دریځ نیولو واک او اختیار نه لري، خپلواک کردارونه او ثابت دریځونه یې د دې ښوودنه کوي چې پر طالبانو هېڅ نفوذ څه چې اغېزه هم نه لري. ولې پاکستان پر دې هرڅه سربېره، په دې هڅه کې دی چې د شرارت، فساد او ناروا گنگوسو پر مټ، له امریکا د کشمیر له کشالې نیولې بیا تر اقتصادي پنډ جلبولو او ستراتیژیکو بحثونو د افغان سولې په روان بهیر کې د مغرضانه حرکتونو له لارې تازه خنډونه راولاړ او تر خپلې وړتیا پورته امتیازونه تر لاسه کړي او دا یعنې د پاکستان په اوړو کې شگه شته.
د دې ترڅنگ، د الیس ویلز د سفر بله موخه له دغه سفر څخه په راتلونکې سپټمبر کې د ډونالډ ټرمپ سفر پاکستان ـ افغانستان ته دی او پر دې اړوند د سولې له لومړنۍ هوکړې وروسته تفاهمات، ولې دېخوا د افغان سولې او افغان امریکا جگړې په یو بل بحث کې د زلمي خلیلزاد وروستیو ټویټونو او مشروطو څرگندونو نه یوازې تازه اندېښنې راپارولې؛ بلکې د امریکایي ځواکونو د وتلو مهالوېش د امریکایانو او طالبانو ترمنځ د سولې د لومړۍ هوکړې پر وړاندې اوس تر ټولو لویه ننگونه گرځېدلې.
امریکایان غواړي چې لږ تر لږه دوه کاله وخت دې ورکړل شي، څو دوی له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي، ولې طالبان بیا د نهو میاشتو او نهایت کې له یوه کال څخه د زیات وخت ورکولو ته چمتو نه دي.
د طالبانو منطق په یو کال وخت کې دا دی چې که د سولې هوکړه وشي، نو د امریکایي پوځیانو د وتلو لړۍ به له سپټمبره پیل شي او تر بل سپټمبره به پای ومومي، په دې کې به د امریکا ټاکنو ته دوې میاشتې وخت پاتې وي او ټرمپ به د عسکرو وتلو په تړس کې د یوې لاسته راوړنې په توگه په هوکړه عمل وکړي او د سولې روان مذاکرات به له ناکامۍ وساتي.
دا ځکه د ځواک او برابرۍ له اړخه افغان لوری په هغه دریځ کې نه دی چې د امریکا په څېر له زبرځواکي سره بیا د سولې د هر ډول هوکړې د تر سره کولو په برخه کې ډغره ووهي.
په پښتو کې متل دی، وایي: «د زوروړو اوبه پاس په لوړه هم خېژي».
د دې ترڅنگ، امریکایان د گټو خلک دي، دوی چې څنگه او کله یې گټې وغواړي هغسې دریځ نیسي، نړیوال ژمنلیکونه او بنسټونه ورته هېڅ ارزښت نه لري. د بېلگې په توگه، دوی له روسیې سره د نږدې واټن ویشتونکو مزایلو تړون مات کړل، د لندن د اقلیمي بدلونونو له تړونه په ډېرې سپین سترگۍ ووتل، له ایران سره د برجام په عنوان د اټومي کنټرول له هوکړې څخه د ټولو نړیوالو اصولو، معیارونو او ژمنو سره په ټکر کې په یو اړخیز ډول ووتل، له شمالي کوریا سره د کړیو ژمنو ترڅنگ یې پخوا او همدا اوس په یو اړخیزه توگه یوازې د خپلو گټو په خاطر تعهدات مات کړل او پر خلاف یې گامونه واخیستل.
پر همدې بنسټ، طالبان کوښښ کوي چې د ځینو زماني محدودیتونو په چوکاټ کې یوې داسې هوکړې ته ورسېږي، کوم چې تر پیله مخکې ماته نه شي.
اوس داچې ولې امریکایانو ته تر یو کال زیاته یعنې دوه یا څه کم دوه کاله وخت ورکړل شي، زما په فکر د طالبانو تحلیل دا دی چې یو لور ته به ټرمپ ټاکنې گټلې وي او شعار به ورکوي چې هغه ده دې سولې هوکړه شوې او زموږ عسکر کور ته راغې. ولې له بریا سره سم به په داسې حال کې چې ځینې پوځیان به یې دلته لا پاتې وي، د داعش، القاعدې او د امریکا گټو ته د گواښ په پلمه د عسکرو د وتلو بهیر به لومړۍ ټاکنې او وروسته بیا دا هرڅه په ټپه ودروي او دلته به وي چې د خپلو ستراتیژیکو موخو او سیاستونو تعقیب ته یوځل بیا به مخ را وگرځوي.
په داسې یو وضعیت کې به د افغانانو د سولې او سیاست تجربه په لوی لاس ناکامه شي، داعش به پراخ کړای شوی وي، مذهبي جگړو او د امام زمان د مسجد په څېر چاودنو به داسې یو وضعیت رامنځته کړی وي، چې ولس ته به د عزت، مال او سر د امن خاطر هر ډول مامله جایزه او په خیر ښکاري، په داسې یوه حالت کې به ټرمپ د سهیلي اسیا په شان د وینو، باروتو او افغان وژنې یوه بله طرحه اعلان کړي او گران افغانستان به یوې بلې بې پایه خارگریزې او وینه بهوونکې جگړې ته چې د سوریې، عراق او لیبیا برخلیک ده، ور لاهو کړای شي.
د دې ترڅنگ به د طالبانو ترمنځ د باور فضاء ختمه شي او د انشعاب نوې څپې چې تر اوسه خیال او مهال دي، قوت واخلي.
پر همدې بنسټ، زما په عقیده طالبان به هېڅ داسې هوکړه لیک لاسلیک څه چې طرحه به یې هم ونه مني، په کومه کې چې د امریکایانو تر یوه عسکره د وتلو مسئله تر یو کاله په کمه او یا په نهایت کې تر یو کال پورې هغه هم د امریکا د ۲۰۲۰ ز کال تر ټاکنو وړاندې نه وي وروستي شوې.
له دې دریځ څخه ځکه باید ملاتړ وشي چې له یوې خوا د سولې ممکن چانس به ضایع نه شي، بل لور ته د سولې هر ډول هوکړه به رښتینې ثبات ولري او تر دې ټولو مهمه دا چې جگړه به پای ومومي، د یوې بلې جگړې امکانات به کم کړي، افغانانو به د پردیو له مداخلو پرته د لومړي ځل لپاره گټونکی دریځ نیولی وي او په ټوله کې د امریکا وحشت او د پاکستان شرارت به پای ومومي.

## د خلاصون لارې شورا: حکومت باید د ټاکنو پر ځای سولې ته لومړیتوب ورکړي

د خلاصون لارې شورا له حکومت او طالبانو غوښتي چې سوله وکړي او په هېواد کې د عامو افغانانو د وژل کېدو روانه لړۍ پای ته ورسوي.
د دې شورا مشر سید اکبر اغا په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال ویلي، په دې وروستیو کې په قطر کې د سولې هڅې د طالبانو او امریکایي لوري ترمنځ گړندۍ شوې او د جگړې ښکېلې ډلې د سولې د راتگ لپاره باید قربانیو ته چمتو شي.
هغه ویلي: «د قطر خبرې یوه اندازه د کامیابۍ په درشل کې دي، یعنې یو څه پرمختگ پکې شوی دی. د دغو خبرو سبوتاژول نه دي پکار، کېدای شي خبرې یو څه اوږدې او نورو پړاوونو ته ولاړې شي؛ ملت غواړي چې دغه پروسه سبوتاژ نه شي».
نوموړي زیاته کړې: «په هېواد کې مو د سولې لپاره په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه جدي هڅې پیل شوې چې تر ډېره یې پایلې مثبتې برېښي او اړوند لوري یې د پرمختگونو څرگندونې کوي، خو افغان حکومت بیا په لوی لاس د ولس د ارادو او لویو غوښتنو خلاف، د ټاکنو تر سره کولو ته په داسې حال کې تبلیغات او لابي کوي، چې د شفافیت او ریښتونولي شونتیا یې په هېڅ ډول نه شي تضمینېدلای».
د هغه په خبره، سوله باید د ټاکنو قرباني نه شي، برعکس ټاکنې باید د سولې لپاره قرباني شي؛ ځکه یوازې په تېره میلادي



میاشت کې ۱۵۰۰ عام وگړي وژل شوي دي.
سید اکبر اغا دغه راز ویلي: «د ټاکنو تر سره کول له افغان ملت سره ظلم او جفا کول دي، که موږ ټاکنې د خلکو په رایو کوو، اړینه ده چې د خلکو نورو افکارو ته هم درناوی ولرو؛ اکثریت ملت تر ټاکنو وړاندې سوله غواړي».
د دې شورا بل غړي عبدالمعز هم ویلي چې د ولسمشریزو ټاکنو تر سره کېدو پر ځای، باید سولې ته لومړیتوب ورکړل شي؛ ځکه د ټاکنو تر سره کېدل په هېواد کې د جگړې د دوام په مانا دي. هغه ویلي: «د ولسمشریزو ټاکنو تر سره کېدل د دې مانا لري چې موږ روانې جگړې ته دوام ورکړو؛ خو ملت نور د بې گناه انسانانو د وژنې زغم نه لري، د ټاکنو پر ځای باید سوله وشي».
بل لور ته له دې وړاندې حکومتي چارواکو څو ځلې ویلي چې د سولې د راتگ لپاره پوره هلې ځلې کوي، خو د ولسمشرۍ ټاکنې به هم پر خپل وخت تر سره کېږي.

## د بېنې نړیوال سازمان: افغان حکومت دې پر رسنیو د برید عاملان محاکمه کړي



په کابل کې د خورشید خصوصي ټلوېزیون پر کارکوونکو د ورمې ورځې برید پراخ غبرگونونه راپارولي دي.
دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ ناوخته په کابل کې د خورشید خصوصي ټلوېزیون د کارکوونکو د عملې پر موټر چاودنه کې دوه ملکي وگړي ووژل شول او د دغه ټلوېزیون د دریو کارکوونکو په گډون، څلور تنه ټپیان شول.
د بېنې نړیوال سازمان په یوه اعلامیه کې د یاد برید د غندلو ترڅنگ ویلي، چې افغان حکومت باید په دې اړه جدي څېړنې وکړي.
دغه سازمان همدارنگه له افغان حکومته غوښتي چې د یاد برید د عاملینو د نیولو ترڅنگ دې پر رسنیو برید کوونکي محاکمه کړي، څو افغان خبریالان بېله کومې وېرې خپل کار ته دوام ورکړي.
بلخوا په کابل کې د امریکا سفیر جان باس هم دغه برید ته په غبرگون کې ویلي، چې ښکېلې خواوې دې د رسنیو او ملکي وگړو د په نښه کولو پر ځای باید سولې او د افغانستان پر راتلونکي تمرکز وکړي.
هغه ویلي: «په افغانستان کې د رسنیو د کارکوونکو په نښه کول هېڅ مانا نه لري».
په کابل کې د اروپایي ټولنې سفیر هم پر یادې پېښې د خواشینۍ په ښودلو سره پر خپل ټویټر لیکلي: «د خبریالانو د خاموشه کولو هڅې به هغوی نور هم قوي کړي».
د دغه ټولنې سفیر پیري مایدون ویلي، چې اروپایي ټولنه به د افغان خبریالانو تر څنگ ولاړه وي.
دغه راز د خبریالانو د ملاتړ بنسټونو هم دغه برید غندلی او له افغان حکومته یې غوښتي چې د رسنیو د کارکوونکو امنیت ته پام وکړي.
د«SITE intel Group» د راپور له مخې، د دغه برید مسوولیت داعش وسله والې ډلې په غاړه اخیستی دی.
دا په داسې حال کې ده چې تېره میاشت وسله والو طالبانو ځینو رسنیو ته خبرداری ورکړ، چې که د دوی پر ضد تبلیغاتي اعلانونه بند نه کړي، خپلې نظامي موخې به یې وگرځوي.
په افغانستان کې د ازادو رسنیو د ملاتړ اداري یا نی د راپور له مخې، د ۲۰۱۹ ز له پیل څخه تر دې مهاله د خبریالانو په گډون، د رسنیو نهه کارکوونکي وژل شوي دي.

# په یوویشتمه پېړۍ کې د خپلواکۍ تعریف باید څه وي؟

لیکنه: مشتاق رحیم

د نولسمې پېړۍ تر پایه او د شلمې هغې په لومړیو لسیزو کې د خپلواکۍ تعریف دا و چې یوه جغرافیه دې له هر ډول باندنۍ ولکې او نفوذ څخه خلاصه او په خپلو چارو کې ازاده وي او د خپلې خاورې هر اړخیز واک دې ورسره وي.

همدا لامل و چې د استعمار پر ضد د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خپلواکۍ لپاره خوځښتونه پیل شول چې هېوادونه له استعماره ازاد شي او پر خپله خاوره د واک چلولو اختیار تر لاسه کړي.

خو پوښتنه دا ده چې د نړیوالتوب په پېر کې ایا اوس هم د ازادۍ هغه مفهوم چې د شلمې پېړۍ تر دویمې یا ان دریېمې لسیزې پورې و، هماغسې پاتې دی؟

په ۲۱مه پېړۍ کې به خپلواکي څنګه تعریفوو او کوم ارزښتونه به زموږ خپلواکي او یا هم بې واکي ثابتوي؟

له دویمې نړیوالې جګړې را وروسته د نړۍ نظام د یو ژور بدلون پر لور خپل مزل پیل کړ. ټولنې د خپل نظام برابرولو وسایل وموندل، د ملګرو ملتونو او ورته جوړښتونو په وجود کې یې د نړیوالتوب پر لور لومړي ګامونه واخیستل.

د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې دا سفر خورا ګړندی مخ ته لاړ او د ۲۱مې پېړۍ په اوږدو کې دا پرمختګ خپل اوج ته ورسېد.

دغو پرمختګونو په نړۍ کې د هېوادنو پر یو بل د تېري پدیده تر ډېره له منځه یوړه.

نن د هېوادونو ګټې د نړۍ د اوسني نظام په چوکاټ کې په خپلو کې سره داسې اوبدل شوي دي چې کابو هر هېواد پر بل هېواد په یو نه یو ډول تکیه کوي او اړتیا ورته لري.

د عصري نړۍ د نوي نظام په رڼا کې هېوادونه اوس د نورو خاورې نه لاندې کوي او دغه راز انسانان اړ نه دي چې د خپلو جغرافیو د خلاصون او خپلواکۍ په موخه هلې ځلې وکړي.

هېوادونه پر یو بل تکیه کوي او د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د راکړې ورکړې پر اساس پر یو بل اغېز لري.

دغه اغېز یو هېواد اړ باسي چې د خپلو اړتیاوو له کبله د بل هېواد له غوښتنو او هیلو سره سم خپلې چارې سمبال کړي.

په بل عبارت، د خاورې د مخامخ واک تر لاسه کولو پر ځای، زورور هېوادونه د کمزورو هېوادونو له محتاجۍ ګټه اخلي.

ځواکمن هېوادونه له دې لارې کمزوري هېوادونه تر خپل اغېز لاندې راولي او دغه راز هلته په غیر مستقیم ډول خپل واک یا نفوذ پراخوي.

د اوسني نړیوالتوب د چوکاټونو ارزونه دا ثابتوي چې د ازادۍ کلاسیک او پخوانی تعریف اوس بدل شوی دی.

په ۲۱مه پېړۍ کې خپلواکي یوازې دا نه ده چې د یو هېواد په خاوره کې دې د بل هېواد پوځونه شتون ونه لري.

د خپلواکۍ پخوانی مطلق تعریف هم نور شاید په عام حالت کې د تطبیق وړ نه وي. پخوا به یو هېواد په مطلق ډول ازاد و او یا به هم مستعمره و.

خو اوس د هېوادونو د خپلواکۍ کچه له دې مالومېږي چې څومره د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره نورو ته اړ دی یا هم څومره پر ځان بسیا دی.

یو هېواد چې هر څومره نورو ته اړ وي، هماغومره یې د خپلواکۍ کچه ټیټه وي او څومره چې د نورو له احتیاجه خلاص وي او خپلې اقتصادي، سیاسي او ټولنیزې اړتیاوې په خپله پوره کولی شي، هماغومره ډېر خپلواک وي.

افغانستان روانه اګست میاشت کې له برېټانوي استعماره د خپلې «بشپړې خپلواکۍ» سلمه کلیزه نمانځي.

د غازي امان الله خان په دوره کې د خپلواکۍ مفهوم هماغه پخوانې و چې پورته یې یادونه وشوه.

د شلمې پېړۍ په پیل کې یوازې هغه هېوادونه خپلواک ګڼل کېدل چې د خپلې خاورې واک او اختیار یې له ځان سره درلود، خو پوښتنه دا ده چې موږ د یو ملت په توګه او د خپلواکۍ د معاصر تعریف په رڼا کې څومره پر ځان بسیا یو؟

افغانان د یو ملت په توګه ازادي خوښوي او ورته مهمه ده او تل په دې توانېدلي چې د نړۍ په نقشه کې ځان د یو ازاد هېواد په توګه ثابت کړي.

خو اوس اړینه ده چې افغانان د ملت په توګه له ځانه پوښتنه وکړي چې څنګه په نړۍ کې د ازادۍ د نوي تعریف او تصور په چوکاټ کې ځان را برسېره او مطرح کولی شي؟

د غازي امان الله خان د واکمنۍ په کلونو کې هم ښایي په نړۍ کې د خپلواکۍ مفهوم په بدلېدو و.

د نوموړي له سیاستونو او تګلارو داسې ښکاري چې د راتلونکي عصر اړتیاوې یې درک کړې وې.

په همدې موخه یې هلې ځلې کولې چې افغانستان د پردیو له احتیاجه خلاص کړي او د نړۍ له تجربو یې په زده کړې غوښتل چې د خپلې ټولنې د پرمختګ وسایل برابر کړي.

امان الله خان تعلیمي اداري رامنځته کړې، عصري تعلیم یې رواج کړ او د افغانانو له نړۍ سره د نښلولو لپاره یې بهرنې سفرونه وکړل.

دی پر دې پوهېدلی و چې له نړۍ د استعمار تېر د ټولېدو په حال کې دی او نړیوال نظام یو نوي پړاو ته ننوځي، داسې یوه دور ته چې د هېوادونو د محتاجۍ کچه به یې د خپلواکۍ کچه ټاکي.

خو د امان لله خان پیل کړی سفر او تګلاره نیمګړې پاتې شوله او افغانان تر ننه پورې په عصري نړۍ کې د خپلې بشپړې ازادۍ ګټلو په تکل کې دي.

د نړیوالو بدلونونو په رڼا کې موږ افغانان باید بدلېدونکي حقیقتونه درک کړو او ځانونه ورسره عیار کړو.

یوازې د خاورې اختیار درلودل د خپلواکۍ بشپړ مفهوم نه دی او اړینه ده چې له اقتصادي احتیاجه ځان خلاص کړو، د خپلې پوهې پر مټ د نړۍ په سیاست کې د هېواد په توګه ځان مطرح کړو او د یوې ټولنې په توګه په نړیوال دریځ ځان ته ځای پیدا کړو.

که داسې ونه کړو، نو خپلواکي او ورسره به د غازي امان الله خان ارمان هم نیمګړی پاتې وي.

# د دوحې مذاکرات؛

## سرچینې: له امریکا سره تر توافق وروسته پر موقت حکومت کار پیلېږي



په قطر کې د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره هڅه روانه ده، خو ځینې سرچینې دا هم وایي چې هلته سر له اوسه د موقت حکومت د رامنځ ته کېدو په تړاو خبرې کېږي. ویل کېږي چې د امریکا او طالبانو تر توافق وروسته به د موقت حکومت پر جوړولو کار پیلېږي. ویل کېږي چې په ناروې یا جرمني کې به بین‌الافغاني ناسته تر سره کېږي او په دې ناسته کې به د افغانستان د راتلونکي حکومت او ټاکنو په اړه هم خبرې وشي.

له طالبانو سره د سولې خبرو د پیل پر مهال دا ګنګوسې هم خپرې شوې، چې دغه ډله د ملي یووالي حکومت مخالفه ده او په هېڅ صورت ورسره مخامخ خبرې نه کوي. تر څنګ یې ویل کېدل چې موقت حکومت به رامنځ ته کېږي او دا حکومت به په هېواد کې ټاکنې تر سره کوي. د موقت حکومت د جوړېدو ګنګوسو د ولسمشرۍ نوماندان پر ټاکنو شکمن کړي او ډېرو نوماندانو خپل ټاکنیز کمپاینونه نه دي پیل کړي او د ځینو نورو کمپاین د پخوا په پرتله، سوړ او پیکه دی.

بلخوا طالبانو او د سولې مذاکراتو ته نږدې سرچینو کابل نیوز ته ویلي، د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ له اختر وړاندې د هوکړې د لاسلیکېدو احتمال دی. د یادو سرچینو په باور، د هوکړې تر لاسلیک وروسته په ناروې یا جرمني کې د بین‌الافغاني مذاکراتو ناسته کېږي او ښایي په دغه ناسته کې په افغانستان کې د قدرت د انتقال او نوي حکومت پر څرنګتیا بحث وشي. دغه سرچینې ویلي: ((د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ د سولې هوکړې تر لاسلیکېدو وروسته پر موقت حکومت کار پیلېږي. د موقت حکومت د مشرۍ لپاره د یو شمېر کسانو پر نومونو سر له اوسه غور روان دی)).

بلخوا د ملي یووالي حکومت له پیله د دغه طرحې او پلان مخالف دی. ولسمشر غني په ځلونو ویلي چې موقت حکومت د افغانانو په زیان دی او دی یې په پوره قوت مخالفت کوي.

بل پلو په کابل کې د طالبانو پخواني چارواکی او د خلاصون لارې شورا مشر سید اکبر اغا بیا وایي چې د بنسټیزې او دایمي سولې لپاره ټاکنې باید وځنډول شي. د ده په خبره، پر ټاکنو ټینګار پخپله د جګړې اوږدول او د سولې د هڅو تخریبول دي. سید اکبر اغا وایي، تر هغه چې په افغانستان کې سوله نه وي راغلې، د شفافو ټاکنو تر سره کېدل ناممکن کار دی او حکومت ته پکار ده چې سولې ته تر ټاکنو لومړیتوب ورکړي.

د دې شورا نور غړي هم د سولې خبرو کې له پرمختګونو سره هممهاله تر انتخاباتو مخکې پر سولې ټینګار لري. دوی وایي، په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره په سیمه ییزه او نړیواله کچه هڅې روانې دي او دغه بهیر له پرمختګونو سره مخ دی، خو افغان حکومت بیا د انتخاباتو په تر سره کېدو ټینګار کوي. د دغې شورا غړي وایي چې سوله باید د انتخاباتو لپاره قرباني نه شي، ځکه د دوی په خبرّه، د ټاکنو په تر سره کېدو سره جګړه نه ختمېږي، بلکې مشکلات ډېرېږي.

د افغانستان د خلاصون شورا د بهرنیانو د وتلو ترڅنګ وایي، حکومت د ټاکنو په تړاو سلا مشورې پیل کړې دي، خو د سولې د ټینګښت لپاره له ولس سره مشورې نه کوي. دوی وایي، ولس د یوه مستحکم نظام غوښتونکی دی، څو وکولی شي په هېواد کې سوله تامین کړي. د خلاصون لارې شورا ټینګار کوي چې د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو، تر سولې هاخوا بل هېڅ ښه بدیل د ښې راتلونکې لپاره نشته.

د موقت حکومت او سولې لومړیتوب خبرې داسې مهال کېږي، چې حکومت هم د موقت حکومت مخالف دی او هم ټاکنې تر سولې مهمې بولي. دوی وایي چې پر خپل وخت ټاکنې کوي او له طالبانو سره د سولې مذاکرات هم پر مخ وړي.

# ټرمپ: په ټکزاس او اوهایو کې وروستي بریدونه شیطاني کړنې وې



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ټکزاس او اوهایو کې پر وروستیو پېښو د خواشینۍ ترڅنګ ویلي، چې دغه بریدونه شیطاني کړنې وې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا په اوهایو او ټکزاس کې د ۲۹ کسانو تر وژل کېدو وروسته، ټرمپ امر کړی چې په ټولو فدرالي ادارو کې دې د امریکا بیرغونه تر پنجشنبې راښکته شي.

ټرمپ ویلي چې دی او لومړۍ مېرمن میلانیا ټرمپ د ټولو هغو خلکو لپاره چې د ده په خبره، له دې شیطاني او نه منونکي کاره زیانمن شوي، دعاوې کوي. ټرمپ تر دې وړاندې په یوه ټویټ کې ویلي وو چې (اېف بي آی) ایالتي او سیمه ییز پولیس به د ټکزاس په ایل پاسو او د اوهایو په ډېټون کې همکاري کوي او پولیسو پېښو ته د رسیده ګۍ په برخه کې ښېړنې ګامونه اخیستي دي.

د اوهایو په ډېټون کې د یکشنبې په ورځ یوه وسله وال بریدګر د خپلې خور په ګډون، نهه کسان په ډزو ووژل او ۲۶ نور یې ژوبل کړل.

د ډېټون د پولیسو یوه مسوول مټ کارپر د بریدګر او پېښې په اړه ویلي: «بریدګر ۲۴ کلن کانر بېټس یو سپین پوستی و، د ډزو په پایله کې ټول نهه وژل شوي کسان د اوریګن ناحیې په پنځم سړک کې وو».

د ډېټون تر بریدونو ۱۳ ساعته مخکې د شپې په شاوخوا یوه بجه د ټکزاس په ایل پاسو کې هم یوه بل بریدګر شل کسان ووژل او شل نور یې ټپیان کړل.

د یادونې ده چې د ایل پاسو ښار ۶۸۰ زره نفوس لري چې د ټکزاس ایالت په لوېدیځ کې د مکسیکو پر پوله پروت دی او د هسپانوي ژبو امریکایانو یو لوی شمېر په دغه ښار کې ژوند کوي.

یوه ۲۱ کلن ځوان پېټریک کروسیس تر دې پېښې وروسته ځان پولیسو ته تسلیم کړی او اوسمهال ترې په بند کې څېړنې روانې دي. پولیسو داسې سند هم موندلی چې ویل کېږي کروسیس په انټرنټ خپور کړی و او له توکمپاله او نښنلېستو څرګندونو ډک ښکاري. په دې سند کې ویل شوي چې دا برید د هسپانوي توکمو لخوا د ټکزاس د اشغال په ځواب کې شوی دی.

د ټکزاس والي ګریګ اباټ په سیمه کې خبریالانو ته ویلي: «موږ د ټکزاس د یووالي لپاره ژمن یو او هر هغه څه چې په وس مو پوره وي، د دې پېښې له قربانیانو سره یې مرسته کوو، له هغو خلکو هم مننه کوو چې لومړني ګامونه یې اخیستي، که څه هم برید ډېر لوی و، خو هغوی وتوانېدل چې د بریدګر له خوا د ډېرو خلکو د زیانمنېدو مخه ونیسي».

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




د ۱۹۸۸ز کال په اګسټ کې جنرال ضیاء الحق د الوتکې په ټکر پېښه کې ووژل شو. پښتون ملت پالو ګوندونو په ملي او ولایتي ټاکنو کې ونډه واخیسته، منځلاري یې غوره کړه. د پښتونستان نوم یې په پښتونخوا واړاوه. له ۱۹۸۸څخه تر ۱۹۹۹ز کال پورې ملکي حکومت د افغانستان په اړه د پاکستان په پالیسۍ کې ځانګړی بدلون رانه وړ، ځکه پوځ لا هم همغه پخوانۍ پالیسي پلي کوله.

د ۱۹۹۰ز لسیزې په پیل کې، د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته امریکایان لاړل، افغانستان په یوه نړیواله لانجه واوښت. جګړه لا هم زوروره شوه، پوهنه، روغتیا او پانګه خورا له بد حالت سره مخ شوه. په سلګونو زره خلک له خپلو سیمو نورو سیمو ته کډوال شول. د امریکا راتلونکو حکومتونو افغانستان ته د یوه ګواښ په سترګه نه کتل. د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر تر ۱۱مې، امریکایانو د پښتنو په سیمو کې د دولت د قانونیت نشتوالی د یوه خطرناک ګواښ په توګه نه و منلی.

### درېیم څپرکی
### د طالبانو قدرت

د ۲۰۱۰ز کال د مني په یوه لمریز ماسپښین د کابل ښار له یوه ختېین کلي یوې کوڅې ته د ننه شوم. دلته د طالبانو د وخت د بهرنیو چارو د وزیر مولوي وکیل احمد متوکل کور و. متوکل د طالبانو د حکومت یوه مهمه څېره وه، د ۲۰۰۱ز کال تر وروستیو چې د امریکایانو په بریدونو کې دا حکومت ړنګ شو، هغه پکې کار کاوه. د نوموړي کور ته د افغاني استخباراتو نظامیانو چې درېشۍ یې هم په تن وې، رهنمایي کړم. هغوی د متوکل د کور مخکې یوه غرفه کې وو چې د نوموړي د ساتنې دنده یې پر غاړه وه، اصل کې یې د هغه پر کړنو څار کاوه.

زموږ د مجلس کمې برخې رسمي وې. د متوکل زوی یوې وړې کوټې ته بوتلم، د کوټې پر څنډو کې کوچونه پراته وو. د دېواله په الماری کې دیني کتابونه وو چې عنوانونه یې په ښکلو رنګونو ښکلي لیکل شوي وو. کوټه کې د سون د تېلو بوی حس کېده.

د کړاوونو پر دې ډک هېواد کې تل د لوړ عمره کسانو په څېرو او خړو وېښتو کې د ستونزو څرکونه ښکاري، خو متوکل چې دا مهال دوه څلوېښت کلن و، ښکارېده. هېڅ فکر به دې نه کاوه چې دا توره ږیره لرونکی کس چې لنګوټه یې هم تړلې، یو وخت د اسامه بن لادن د قضیې پر سر یې خبرې اترې کړې وې او د افغانستان له لارې یې د انرژۍ د پایپ لاین د انرژۍ له لویو نړیوالو کمپنیو سره خبرې کړې وې. د هغه په نرم او په زغم لرونکو خبرو کې پر نوموړي تېرې شوې سختۍ نه درک کېدې.

هغه لا ځوان و چې له کمونېستانو سره په جګړه کې یې پلار (عبدالغفار بریالی یو پیاوړی کندهاری عالم او شاعر) وژل شوی و. هغه مهال چې د ۱۹۷۸ز کال په اپرېل کې پر داوود خان له کودتا وروسته، هغه د حج له فریضې راغلی و، د وخت د حکومت له لوري ونیول شو. هغه له کومې دوسیې او حقوقي دعوې پرته په زندان کې اچول شوی و، د متوکل کورنۍ ته هغه مهال په زندان کې د دوی له پلار سره د ملاقات اجازه وه. متوکل لا ځوان شوی نه و چې یوه ورځ یې له زندانه پلار غیب شو چې تر نن ورځې یې بیا نه دی لیدلی.

متوکل ته د خپل پلار کتاب پلورنځی ور پاتې شو. د خپلې مور په ګډون درېیو میندو او څلورو نورو ماشومانو پالنه او روزنه ور ترغاړې شوه. د هغه کورنۍ کندهار ښار ته نژدې په پنجوایي کې وه، نوموړی خپل کلیوالي ختېین کور ته تللای نه شوای. پښتنو کې دود دی چې د شخص له وفات وروسته یې د کورنۍ سرپرستي وروڼه کوي، خو د متوکل پلار وروڼه نه لرل چې د هغه د کورنۍ سرپرستي وکړي. هغوی لومړی کندهار کې له خپلوانو سره اوسېدل، خو ژر یې پرېکړه وکړه چې په کوېټه کې و اوسېږي. متوکل لیکي: ((په ځوانۍ کې له یوې خوا د کورنۍ مسئولیت او له بلې خوا خپلې زده کړې را تر غاړه وې.))

د ۱۹۸۰ز لسیزې په پای کې هغه مهال چې د سره پوځ پر وړاندې جګړه اوج ته رسېدلې وه، د متوکل اسلامي زده کړو بهیر چټک شوی و، هغه د قرانکریم، احادیثو او نبوي سیرت او د عربي ژبې زده کړې کولې. لږ کلونه وروسته متوکل د کوېټې ښار په یوه څنډه کې د یوې مدرسې مدیر مقرر شو. دا مهال په افغانستان او پاکستان کې دیني علماوو سیاست ته مخه کړې وه.

له هغو علماوو پرته چې د سیاسي او جګړه‌ییزو ډلو مشري یې کوله، له نسلونو د نورو دیني عالمانو ژوند د نورو خلکو په پرتله په اقتصادي لحاظ په ټیټه کچه کې قرار لاره. د جهاد له پیل سره د دیني عالمانو پر وړاندې د مرستو لړۍ چټکه شوه، هغوی د بهرنیانو په ځانګړي توګه د عربانو تر اغېز لاندې راغلل. پښتانه علماء هم په دې بهیر کې سره نږدې شول او اړ شول چې په ټوله نړۍ کې له اسلام پالو سره اړیکې جوړې کړي.

د افغانانو له نوي نسل څخه یو هم متوکل و چې د پاکستان په دېوبندي مدرسه کې روزل شوی و. دا طبقه روزل شوي دیني عالمان له هغو عالمانو سره چې په افغانستان کې په دودیزه توګه روزل شوي وو، د نړۍ په اړه بېل لیدلوری لاره. د هرې ډلې اغېز د لسیزو لپاره د میراث په توګه پاتېږي.

**دوام لري...**

# محمد حسن ولسمل

شفیق امیرزی



محمد حسن ولسمل د هېواد وتلی لیکوال، ژورنالېست او سیاسي شنونکی و. محمد حسن ولسمل د هېواد په سختو شرایطو کې د روښانه راتلونکې لپاره د قلم پر مټ مبارزه کوله او غوښتل یې دلته د ظلم او زیاتي ګیلم ټول کړي. هغه له خپل هېواد سره صادقانه او رښتینې مینه لرله او د نړۍ د اوسني سیاست په اړه یې معلومات لرل. ولسمل د شوروي د یرغل پر مهال، بیا د امریکا تر جګړې پورې په هېواد کې ځانګړی دریځ درلود. هغه دا جګړې له یو بل سره تړلې بللې او په خبره یې د افغان انسان د وژلو او تباه کولو لړۍ ده. ولسمل پر دې باور و، چې امریکا د پاکستان پر مټ لا هم په افغانستان کې خپلې جګړه ییزې پروژې لري او په باور یې دا پروژې دومره ژر د ختمېدو نه دي.

هغه د خپل یوه کتاب په سریزه کې لیکي، افغانستان د امریکا او پاکستان د ګډې لوبې قرباني دی او تر هغه به دا جګړه روانه وي، څو چې دوی خپلو موخو ته نه وي رسېدلي. ده به افغان سیاسیون هم خام بلل چې د امریکا او پاکستان پر لوبو ځان ناخبره اچوي. ولسمل په دې سریزه کې وایي چې جګړه د افغانانو نه ده، بلکې پر افغانانو تپل شوې ده. ده په خپلو ډېرو لیکنو کې افغان سیاستوال دې ته متوجه کول چې د بهرنیانو لپاره د هو ځواب پر ځای د خپل ولس تر څنګ ودرېږي او په پوره دقت دلته روانې لوبې ختمې کړي. هغه هېڅ وخت د خپلو ملي ګټو او ملي فکر لپاره له مبارزې لاس وا نه خیست او نه هم له خپل فکر او فکري مبارزې یو ګام شا ته شو. هغه د نوي حکومت په راتګ سره هم د هغو مسایلو پلوی پاتې شو چې د افغانستان په خیر او ګټه وو.

اروانښاد محمد حسن ولسمل د قاسم خان زوی و چې په ۱۳۱۶ لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ په ګهیک کلي کې زېږېدلی و. هغه په همدې کلي کې لوی شو، خو د ښوونځي او زده کړو لپاره له کامې کابل ته لاړ. په ۱۳۳۳ لمریز کال کې د کابل له ابن سینا ښوونځي او په ۱۳۳۵ لمریز کال کې د کابل د کرنې له لېسې څخه فارغ شو. ولسمل د ښوونځي تر خلاصولو وروسته پوهنتون او لوړو زده کړو ته مخه کړه. ده په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځی پیل کړ. اروانښاد ولسمل په ۱۳٤۲ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي فارغ شو.

تر فراغت وروسته د هر محصل ارمان دا وي چې خپل هېواد او کورنۍ ته د خدمت جوګه شي. ولسمل هم له ولس سره مینه لرله او غوښتل یې دې خلکو ته د قلم او خپلې پوهې له لارې خدمت وکړي. نو له فراغت سره سم په ۱۳٤۲ لمریز کال کې د کابل راډیو ته لاړ او هلته د همدې راډیو د نشراتو مدیر وټاکل شو. دلته یې مهم فعالیتونه تر سره کړل او لا ډېرې تجربې یې خپلې کړې. هغه یوازې په ژورنالیستیکه برخه کې ایسار نه شو، بلکې په حکومت کې یې نورې دندې هم لرلې. هغه د نورو دندو تر څنګ، د بغلان، زابل او تخار ولایتونو کې د ځینو ولسوالیو د ولسوال په توګه هم دنده تر سره کړې ده.

ولسمل له ماشومتوبه د کتاب له لوست سره مینه لرله. ده به تر ډېره د تاریخ کتابونه مطالعه کوله او په وینا یې د تاریخي کتابونو کرکټرونه ده ته په زړه پورې وو. ده په خپله یوه مرکه کې ویلي، له همدې ځایه یې له سیاست او سیاسي مسایلو سره اړیکه پخه شوه او غوښتل یې خپل ولس ته له دې لارې خدمت وکړي. ولسمل چې کله پوهنتون ته بریالی کېږي، نو په پوهنتون کې په سیاسي او ځینو ټولنیزو فعالیتونو لاس پورې کوي. دی یو وخت د محصلینو مشر ټاکل کېږي او محصلین د ده تر مشرۍ لاندې په تحصیلي نظامونو کې د اصلاحاتو د راتګ لپاره لاریونونه کوي. یو وخت د پوهنتون د هغه وخت د رییس پر ضد لاریون کوي. د وخت لومړی وزیر دې ته اړباسي چې له ولسمل سره ووینې او دوی ترې د پوهنتون د رییس ګوښه کېدل غواړي. دی بریالی کېږي چې په منطقي دلایلو لومړی وزیر دې ته قانع کړي چې د پوهنتون رییس له دندې ګوښه کړي.

ده تل انقلابي فکر درلود. د همدې فکر د پاللو لپاره یې له ښاغلي حبیب الله رفیع صیب سره په ګډه په ۱۳٤۹ لمریز کال کې د افغان ملي جریدې په نامه اخبار خپروي. دوی چې کله د افغان ملي جریده جوړه کړه، نو حکومت هڅه کوله چې پر وړاندې یې اقدام وکړي. هغه مهال حکومت په پارلمان کې ځینو ژبنیو مسایلو ته لمن وهله. خو ولسمل د پښتو ژبې په دفاع او د وکیلانو د لاربښوونې لپاره مطالب خپرول. د افغان ملي جریدې د یوې ګڼې په خپرېدو حکومت بندیز ولګاوه، خو ولسمل څو ګڼې په پټه له مطبعې ایستلې وې. اخبار مصادره شو، خو څو شمېرې یې د پارلمان د غړو تر ګوتو ورسېدې. وکیلانو یې په سبا ملاتړ کوي او دفاع ترې کوي. د پارلمان ۱۱۸ غړي اخبار له ځان سره اخلي او د وخت شا ظاهرشاه ته ورځي. د همدې اخبار په وسیله د هغه وخت لومړی وزیر استعفا ته اړ کېږي او اخبار بېرته خپل چاپ شروع کوي.

افغان ملي جریده هغه وخت یوازینۍ ملي او پیاوړې جریده وه چې حکومت ترې ډارېده او کله کله به یې بندیزونه ورباندې لګول. دوی له پیاوړي موقفه کار کاوه او د ملي ګټو په دفاع کې یې قلم چلاوه.

د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال نوموړي ته حکومتي دنده ورکول کېږي. خو دی وایي، دی پوه شو چې په حکومت کې خلکو ته ډېر خدمت نه شي کولی، نو اړ دی چې بېرته د لیک او قلم ډګر ته را وګرځي. ولسمل له دندې استعفا ورکوي او د هغه وخت نورو اخبارونو ته لیکنې کوي. تر هغه وروسته د وخت د حکومت او ځینو چارواکو په اړه لیکنې کوي.

هاشم میوندوال، حبیب الله رفیع، عبدالرحمن پژواک، ګل پاچا الفت، سید شمس الدین مجروح، عبدالروف بینوا، صدیق روحي، استاد حبیبي او دې ته ورته مشهور او وتلي کسان هغه لیکوالان وو، چې د ولسمل اخبار ته یې لیکنې کولې. ولسمل وایي، دغو کسانو یې اخبار ته باور ورکړی و او خلکو هم ځکه لوست چې باوري او د قلم خاوندانو پکې لیکنې کولې.

بالاخره دغه مهم اخبار په ۱۳۵۲ لمریز کال کې د حکومت له لوري مصادره کېږي. پادشا او لومړي وزیر دواړو پر ولسمل فشار راوست چې خپل اخبار وتړي. له همدې وروسته کودتاه کېږي او د اخبار چاپ درېږي.

وروسته چې کله پاکستان ته ځي، نو هلته هم اخبار چاپوي. هڅه کوي چې پیاوړي کسان ورسره لیکوالان وي او پیاوړي کسان یې همکاري ولري. هلته افغان مجاهد اخبار چاپاوه، چې وروسته د پاکستان حکومت مصادره کړ. دا اخبار دوه کاله وچلېد. بیا یې مجاهد ولس چاپ کړ چې دری کاله خپور شو. خو بیا پاکستاني حکومت خپل خطر پکې وینې، نو اخبار بندوي، ولسمل بندي کوي او ده ته امر کوي چې په دوو ورځو کې له دغه هېواده ووځي. له دې ځایه د ملګرو ملتونو په مرسته ناروې هېواد ته ځي.

په ناروې کې هم ارام نه کېني. دی یوه خبري غونډه را غواړي. خبریالانو ته وایي، دی دلته د ځان خوندي کولو لپاره نه دی راغلی، بلکې غواړي هېواد یې د روسانو له یرغله خلاص کړي. ده ټینګار کاوه چې مدني حرکتونه تر سره کوي او غواړي خپل هېواد د روسانو له یرغله خلاص کړي. ده په ناروې کې د روسانو د سفارت په مخکې د مرګ تر ورځې پورې د اعتصاب ژمنه وکړه. ده وکیل ونیو او پوره پنځوس ورځې یې د روسیې د سفارت مخکې د نه خوړو اعتصاب وکړ. تر دې چې دی کوما ته ځي او روغتیایي کارکوونکي یې له سیمې بیایي.

محمد حسن ولسمل ډېر اثار لیکلي دي. لسګونه مقالې او لیکنې یې خپرې کړې دي. هغه د خپلو خاطراتو یو کتاب لیکلی دی چې په هغه کې یې د ټولو جهادي مشرانو او نورو سیاسیونو فعالیتونه او نیمګړتیاوې رابرسېره کړې دي. ولسمل د خپل کتاب په سریزه کې ویلي، ځینې کسان یې ژوند ته خطر پېښوي، ځکه په اړه یې سخت حقیقتونه په دې کتاب کې بیان کړي دي. ولسمل له جهادي مشرانو سره له نږدې اړیکې لرلې، خو هېڅ وخت له چا نه وېرېده او هر هغه څه یې لیکل او خلکو ته رسول چې حقیقت وو او ملي ګټې یې خوندي کولې. ولسمل دغه کتاب له پوره اسنادو سره خپور کړی دی. مهم او تاریخي انځورونه پکې چاپ شوي دي.

ولسمل وایي، دی یو وخت باوري و چې امریکا به افغانستان ورانوي. ده له ډېرو امریکایي چارواکو سره خبرې کړې وې او د دوی له خبرو ورته ښکاره شوه، چې امریکا له افغانستان سره رښتینې نه ده. ولسمل وایي، امریکا د افغانستان په ګټه نه ده، دی تر مرګې ورځې پر دې باور و، چې امریکایان د افغانستان جوړېدل نه غواړي او دلته یې د یوې خونړۍ او خطرناکې جګړې زړې کرلې دي.

ولسمل د موقت حکومت له راتګ سره سم په رسنیو او سیاسي بحثونو کې مطرح څېره وه. هغه تل په بحثونو او مرکو کې له ملي ګټو دفاع کوله. ده تل ملي دریځ نیوه او خلک یې له نامه او څېرې سره اشنا وو. ولسمل د خلکو او فرهنګي کړیو له درناوي برخمن و. هغه د یوه عادي افغان په څېر په کابل او جلال اباد کې ژوند کاوه او په کور کې یې تر ټولو ښه ملګري او همرازان هغه کتابونه وو، چې د عمر په اوږدو کې یې راټول کړي وو.

بالاخره د پښتون ولس دغه خدمتګار د تېرې یکشنبې په ورځ له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې. هغه له دې نړۍ لاړ، خو افغان ځوانانو ته یې دا پیغام پرېښود چې تل باید له خپل فکر دفاع وکړي او پر خپل فکر ولاړ اوسي. د هغه نږدې خپلوان وایي، ښاغلی ولسمل له ناروغۍ کړې ده او له دې فاني نړۍ د تګ پر مهال ۸۲ کلن و.

ډېرو حکومتي چارواکو، فرهنګي شخصیتونو، ژورنالېستانو، قلموالو، فرهنګي ټولنو او نورو بنسټونو د ښاغلي ولسمل پر مړینه خپله خواشیني څرګنده کړه. ولسمشر هم په یوه پیغام کې د هغه مړینه ستره ضایعه بللې وه. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په یوه پیغام کې ویلي وو، چې هېواد ته د ښاغلي ولسمل فعالیتونه د نه هېرېدو دي او د هغه مړینه د ادب، ژورنالېزم او سیاست ډګر ته ستره ضایعه ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۵ |
| € | ۸۷ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۱٤۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۵ |
| £ | ۹٤ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همياني

# څنګه په کاري چاپېريال کې غيرمنطقي غوښتنې کنټرول کړو؟

ژباړه: امان الله «حنيفي»

ايا کله مو داسې حس کړی چې نه شی کولای کارونه مو له خپل پروګرام سره سم مخکې يوسی؟ ايا کله داسې شوې چې رييس مو د ۹۰ دقيقو لپاره تاسې ته يو ماموريت درکړی؟ ايا هره پروژه چې تاسې ته يې وړاندې کړي، تاسې يې بدون له ځنګې او ولې منی؟

که مو دغو پوښتنو ته ځواب مثبت وي، ممکن داسې حس کوی چې تاسې ستړي او د کار واک مو له لاسه وتلی دی. که همداسې وي، همدا مقاله ستاسې په درد خوري. تر پايه يې ولولئ.

موږ د دې مقالې په اوږدو کې درته ځينې هغه لارې چارې ښيو، چې تاسې کولای شی په ښه ډول کار وکړی، ځان ته ډېر احترام راجلب کړی او ډېره ګټه له ځان سره يوسی.

څېړنې ښيي چې په کاري چاپېريال کې فشار اصلاً د په عمر پخو همکارانو د اضطراب لامل کېږي. دا مسئله په دې نږدې څو لسيزو کې ښخې زياته شوې ده. د دې ستونزې (په کاري چاپېريال کې غيرمنطقي غوښتنې او د کار له کنټروله وتل) اصلي لامل د ټکنالوژۍ بې سارې پرمختګ دی؛ ځکه موږ له رسمي کاري ټيم پرته هم ان ۲۴ ساعته له کاري چاپېريال سره تړلي يو او همدا مو د ذهني ګډوډۍ لامل شوی دی.

موږ د خپلو کړنو په واسطه نورو ته ښيو چې هغوی له موږ سره څنګه عمل وکړي. که غواړی چې له همکارانو سره مو ښه ناسته ولاړه ولری، لاندې سپارښتنې له ياده مه باسئ:

**۱- خپل کاري حد مو معلوم کړئ**

له رييس او مدير څخه د خپل کاري حد معلومول په کاري چاپېريال کې ستاسې عزت او له همکارانو سره نېکه اړيکه روغه ساتي. کن بلانچارد د (يوې دقيقې مدير) کتاب ليکوال وايي: «د کار په لومړيو کې مو هم تاسې او هم رييس د هغه کار نوملړ برابر کړئ چې له مخې يې تاسې د هغه پر سرته رسولو مکلف شوي يی». دا له تاسې د خپل وخت او انرژۍ په کنټرول کې مرسته کوي. بلانچارد وايي، د فهرست له برابرولو وروسته مو کارونه اولېت بندي کړئ او د هغه په اړه مو له رييس سره خبرې وکړئ.



**۲- خپل کړه وړه مو و ارزوئ**

له رييس څخه د مرستې غوښتلو سربېره، په کاري چاپېريال کې د خپلې ناستې ولاړې ارزونه هم د روښانه حدودو په ټاکلو کې مرسته کوي.

خپل همکاران او هغه ارګان چې تاسې پکې کار کوی، ښه وپېژنئ، که نه، هغه ستاسې لپاره پر يو فشار اوړي. مانا دا چې بيا هېڅ نه شی کولای چې د هغوی له غوښتنو سره په يو وخت کې ځان عيار کړی. دا په ياد ساتئ، که پوه شوی چې دغه موارد ستاسې لپاره د غوسې، کرکې او د ګناه د حس لامل شول، بايد چې د هغه په اړه په سړو ماغزو فکر وکړئ او ځان له هغو سره جوړ راولی. که ممکن تاسې ورسره جوړ نه شوای راتللی، ښه ده چې بله دنده ځان ته ولټوئ.

**۳- حدود وټاکئ**

کله چې درته روښانه شوه چې پر کومو مواردو بايد تمرکز وکړی، بيا د هغه لپاره حدود وټاکئ. د بېلګې په ډول، د ماښام له ٦-۹ بجو څګه ايميل مه چکوئ، چې دا وخت تاسې د خپلې کورنۍ له غړو سره ياستی. کېدای شي دا ستاسې لپاره يو حد وي. کېدای شي دا هم ستاسې لپاره يو بل حد وي، چې رييس يا مدير ته مو ووايی، چې د کاري سفرونو په اړه دې تاسې يوه اونۍ مخکې خبر درکړي، څو وکړی شی هم کاري او هم کورني مسايل سره همغږي کړی.

**۴- واضح خبرې وکړئ**

د پولې له ټاکلو وروسته بايد د هغه په اړه روښانه، واضح او په پوره باور له خپلو همکارانو سره خبرې وکړئ. د بېلګې په ډول، که نه غواړی چې هر وخت د همکار له تاسې سره اړيکه ونيسي، هغه ته روښانه کړی چې کوم وخت کولای شي له تاسې سره اړيکه ونيسي. که نه غواړی چې د اونۍ پای او يا هم د رخصتۍ ورځو کې دې تاسې ته زنګ ووهي يا دې يو ځای ته د تللو او چکر وهلو په اړه تاسې ته خبر درکړي، ښه ده چې هغوی ته ووايی کوم ځای ته تلل مو خوښېږي او کوم ته نه. که مو ځينې ملګري او همکاران ستاسې حدونه ناديده نيسي، تاسې پر خپلو خبرو تاکيد وکړئ او له هغه مه په شا کېږی.

**۵- ښه رهبري وکړئ**

که په يوازې ځان د ۵۰ کسانو کار کوی او په هر کار کې د ستړيا حس کوی، پوه شی چې تاسې په رهبرۍ کې ستونزې لری، خو ستاسې لپار ښه خبره دا ده چې دا مهارت زده کېږي. دا په ياد ساتئ هر کار ته لاس مه اچوئ، يوازې پر کاري ټيم باور وکړئ او د هغه له وړتيا ګټه واخلئ.

**٦- له خبرو کولو مخکې يو څه مکث وکړئ**

له هغو (هو) ويلو ځان ساتل چې بيا وروسته سړي ته په سرخوږي اوړي، يو مهارت په خبرو کولو کې مکث دی.

د بېلګې په ډول، مخکې له دې چې رييس مو يو نوی ماموريت درته وسپاري، تاسې له ځواب ورکولو مخکې د ځواب په اړه لږ مکث وکړئ. دا کار تاسې ته دا چانس په لاس درکوي چې پر خپله برنامه مو مرور وکړئ او وګورئ چې ايا ستاسې له لومړيتوبونو سره اړخ لګوي او که نه. که لازمه وي، ښه ده چې يو څه وخت وغواړئ او ووايی: «ممکن وکړای شم، اجازه راکړی چې پر خپلو کارونو يو ځل فکر وکړم، وروسته تاسې ته خبر درکوم».

**۷- نه ويل تمرين کړئ**

د (۱۸ دقيقې) کتاب ليکوال برګمان وايي، د ځينو کړنو او مسووليتونو اخيستو لپاره (نه) ووايئ. د بېلګې په ډول، د هغه مسووليت اخيستو ته نه ووايئ چې ستاسې په زړه نه دی جوړ. هغه پلورونکي ته نه ووايئ چې په لاسونو کې ځيزونه خرڅوي. يوازې ژوند کولو ته نه ووايئ. کېدای شي په لومړيو کې دا کار درته ښه ښکاره نه شي، خو داسې نه ده، همدا نه ويل ډېرې وخت تاسې ته چانس او ارام په لاس درکوي.

**۸- يو مهالوېش ولرئ**

د اوږدو مجلسونو او له رييس سره د خبرو لپاره مهالوېش جوړ کړئ. د مهالوېش جوړولو يو اصل د لومړيتوبونو پېژندل دي. د کاري چاپېريال په اونيزو او مهالنيو جلسو کې ګډون وکړئ او د اجنډا په اړه يې له مخکې ځان خبر کړئ. که غواړی په کاري چاپېريال کې ښه کنټرول ولری، ښه ده چې ان د راتلونکې ورځې په اړه د شپې مخکې له دې چې د خوب کټ ته لاړ شی، لس دقيقې فکر وکړئ.

**۹- له نورو د منفي خبرو د اورېدو زغم ولرئ**

ځان ته د حدودو له ټاکلو وروسته د نورو عکس العملونو او منفي خبرو ته سينه سپر کړئ. له دې کړنې سره به حتماً مخکې کېږی، خو له خپلو حدودو په شا نه شی. اورېدلي به مو وي، هره بريا لومړی ناديده بلل شوې، بيا مسخره شوې او وروسته نمانځل شوې ده.

**د پای خبره**

هغه کسان چې په کاري چاپېريال کې د ځان لپاره حد او پوله لري، خوشاله او تر نورو زيات ګټونکي دي. دې ډول کسانو ته نور خلک احترام کوي، ځکه دوی ځان ته په احترام قايل دي.

د حد او پولې ټاکل مانا له ځان سره بې سارې مينه کول، داسې مينه چې کېدای شي، ځينو بخيلو کسانو ته په رنځ هم واوړي، خو تاسې د هغوی په اړه فکر مه کوئ، هغوی د خدای له دې رنځه مړه کړي. زموږ ارزښت د نورو په تاييد کې نه دی. که د زړه له کومې او په پوره مينه د خپل ځان احترام وکړو، کولای شو نورو ته ووايو، نور بس دي!!

# وکيلان: د اداري پلاوي د بې کفايتۍ له کبله د جرګې نصاب يوازې يوه ورځ پوره شوی

د ولسي جرګې غړي د دې جرګې د عمومي ناستې پر نه تر سره کېدو د نيوکې ترڅنګ ادعا کوي، چې د اداري پلاوي تر ټاکنو وروسته، د دې جرګې نصاب يوازې يوه ورځ پوره شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د جرګې د اصولو له مخې، شنبې، دوشنبې او چهارشنبې بايد ولسي جرګه؛ دغه راز يکشنبې او سې شنبې بايد مشرانو جرګه خپلې عمومي ناستې وکړي.

د اساسي قانون له ۱۰۷مې مادې سره سم، ملي شورا هر کال دوې عادي ناستې لري، د شورا د هرې ناستې کاري موده نهه مياشتې ده او د اړتيا پر مهال شورا کولای شي ياده موده وغځوي.

د قانون پر اساس، ملي شورا بايد د زمري په لومړۍ خپله د دوبي رخصتي پيل کړې وای، خو دې شورا د حکومت په غوښتنه د نيمايي کال د بودجې د



تصويب لپاره تر اوسه د اوړي رخصتي نه ده پيل کړې او د بودجې سند يې يو ځل تېره اونۍ رد کړ.

د نيمايي کال د بودجې سند ورمه ورځ بيا ملي شورا ته وړاندې شوی او ګډ کمېسيون پکې پر اختلافي مواردو کار کوي.

په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازي رمضان بشردوست د جرګې پر اداري پلاوي نيوکه کړې او ويلي يې دي چې د اداري پلاوي د بې کفايتۍ له امله په روانو ناستو کې د ټاکنو له ورځو پرته، يوازې يوه ورځ د جرګې نصاب پوره شوی.

هغه زياته کړې، تېره اونۍ چهارشنبې لومړنۍ هغه ورځ وه چې يادې جرګې نصاب او اجنډا لرله. د نوموړي په خبره، د ولسي جرګې غړي کار لري، خو نه يې تر سره کوي.

بشردوست زياته کړې: «موږ چې هره ورځ د يوه مامور د يوې مياشتې معادل معاش اخلو په شخصي کارونو بوخت يو، بايد نن ناسته جوړه شوې وای، ډېر مضوعات شته چې بايد په اړه يې تصميم ونيول شي».

بلخوا په ولسي جرګه کې د فراه د خلکو استازې بلقيس روشن هم د دې جرګې د تېرې ورځې په نه تر سره کېدو د نيوکې ترڅنګ ويلي: «د نننۍ(پرونۍ) ناستې نه تر سره کېدل د دې جرګې د اداري پلاوي پر بې کفايتۍ دلالت کوي».

هغې زياته کړې، په دې حساسو شرايطو کې بايد د جرګې عمومي ناسته نه وای رخصت شوې.

نوموړې د جرګې د اداري پلاوي دغه کار د خلکو په حق کې ظلم بللی او د جرګې له اداري پلاوي يې غوښتي چې د خلکو د استازو وخت ضايع نه کړي.

د جرګې ځينو نورو غړو هم ويلي چې په روانو ناستو کې د اداري پلاوي د ټاکنو له ورځو پرته، د ولسي جرګې پاتې ناستو ځانګړې اجنډا او نصاب نه لرل.

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د زمري ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د اګسټ شپږمه | ۴۱۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | ۴۱ | ۴۴ | ۴۴ | ۴۲ | ۴۰ |
| ۲۰ | ۲٦ | ۲۷ | ۳۱ | ۲۹ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۲ | لمر ختل ۰۵:۰٦ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:۴۴ | ماښام ۰٦:۵۳ | ماخوستن ۰۸:۲۸

## نړۍ





## جنوبي کوریا او امریکا بیا ګډ پوځي تمرینونه پیلوي



د جنوبي کوریا پوځ وايي، د شمالي کوریا له خبرداري سره سره به د امریکا د متحده ایالتونو له ځواکونو سره په ګډه پوځي تمرینونه پیل کړي.
د جنوبي کوریا دغه اعلان داسې مهال دی چې تر دې وړاندې شمالي کوریا ویلي وو، چې دا ډول تمرینونه به د دغه هېواد او امریکا ترمنځ پر اټومي مسئله خبرې له ګواښ سره مخامخ کړي.
د جنوبي کوریا دفاع وزارت ویلي چې دغه ګډ تمرینونه به د جګړې پر مهال له امریکا څخه د خپلو ځواکونو د عملیاتو د کنټرول د بېرته اخیستلو په برخه کې د جنوبي کوریا بالقوه وړتیاوې وازمايي.
په ورته وخت کې د امریکا او جنوبي کوریا په اوسني امنیتي تړون کې ویل شوي چې د جنګ په صورت کې به امریکایي جنرال د جنوبي کوریا او امریکا د ګډو ځواکونو قومانده په غاړه اخلي، خو جنوبي کوریا له ډېره وخته هڅه کوي چې په دغه تړون کې بدلون راوړل شي.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د دواړو هېوادونو دغه ګډ پوځي تمرینونه د شمالي کوریا او امریکا ترمنځ د وروستیو خبرو له کبله ځنډېدلي وو.
د یادونې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د شمالي کوریا مشر په تېرو دوو کلونو کې د اټومي لانجې د حل او پر شمالي کوریا د نړیوالو بندیزونو د پای ته رسېدو له کبله درې ځلې مخامخ ناستې کړې، خو له کومې هوکړې پرته پای ته رسېدلې دي.

## په مصر کې د موټرونو د ټکر له امله لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

مصري چارواکو ویلي چې د دغه هېواد د سرطان ملي انسټېټیوټ ته نږدې په چاودنه کې لږ تر لږه ۱۹ تنه وژل شوي او ۳۲ نور ژوبل دي.
د دغه هېواد د کورنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، یو موټر چې په یو طرفه سړک روان و، له دریو نورو موټرونو سره ټکر شو او په پایله کې یې چاودنه وشوه چې یاده مرګ ژوبله یې واړوله.
د دغه هېواد امنیتي ځواکونو ویلي، تر اوسه څرګنده نه ده چې دا پېښه قصدي وه او که تصادفي.
د مصر د کورنیو چارو وزارت په خبرپاڼه کې ویل شوي چې دا پېښه ورمه شپه شاوخوا ۱۲ بجې شوې ده.
د یادونې ده چې د پېښې ځای د نیل سیند پر غاړه دی چې تل پکې د موټرو ګڼه ګوڼه وي.
د دې پېښې په خپرو شویو ویډیوګانو کې ډېر موټرونه لیدل کېږي چې اور پرې بل دی.
د مصر د روغتیا وزارت ویلي چې دې چاودنې د مصر د سرطاني ناروغیو ملي انسټېټیوټ ته هم زیان اړولی دی.
که څه هم تر اوسه د دې پېښې انګېزه نه ده په ډاګه شوې، خو تر دې وړاندې داعش او نورو وسله والو ډلو د دغه هېواد پر امنیتي ځواکونو خونړي بریدونه کړي دي.




## وزارت معادن: توافقنامۀ تعدیل قرارداد ۹ معدن سنگ مرمر هرات امضا شد



وزارت معادن و پترولیم افغانستان، توافقنامۀ تعدیل قرارداد ۹ معدن سنگ مرمر به مقیاس کوچک ولایت هرات را با شرکت‌های خصوصی قراردادی امضا کرد.
نرگس نهان سرپرست وزارت معادن و پترولیم، دیروز در مراسم امضای قراردادهای یاد شده در کابل گفت: «وزارت معادن و پترولیم برای حل مشکلاتی که در قراردادهای گذشته وجود داشت، گام‌های عملی برداشته و امروز ما شاهد رفع مشکلات در بخش‌های تخنیکی و حقوقی ۹ پروژه معدن کاری سنگ مرمر می باشیم».
نهان افزود که از میان ۱۴۷ پروژه کوچک و متوسط معدنکاری، تعدادی از آن با مشکلات جدی تخنیکی و حقوقی روبرو بود و شرکت‌های قرارداد کننده، نمی توانستند مطابق قرارداد اولیه کار نمایند.
به گفته او، ۹ پروژه که توافقنامه‌های تعدیل قرارداد آن امضا شد؛ شامل ۱۴۷ پروژه یی است که شرکت‌های قرارداد کنندۀ آن، دو سال پیش خواهان ایجاد تعدیل شده بودند.
او همچنان گفت که این شرکت‌ها در سال ۱۳۹۵، پیشنهادی را مبنی بر بررسی مجدد قرارداد شان ارایه کرده بودند و خواستار یک سلسله تعدیلات در قرارداد شان شده بود.
سرپرست وزارت معادن و پترولیم افزود: «پس از بررسی‌ها، تیم تخنیکی ما دریافتند که تعدیلات خواسته شده از سوی شرکت‌ها بجا می‌باشد، در قراردادهای وضع شده، شرایط مطابق وضعیت کنونی در نظر نگرفته نشده بود و آن زمان، وزارت معادن و پترولیم نیز تجربه امضای قراردادهای به مقیاس کوچک را نداشت».
به گفته او، در قراردادهای قبلی، مقدار رویالتی و مقدار استخراج آن مشخص شده بود؛ اما وقتی شرکت‌ها در ساحه رفتند، نتوانستند همان مقدار استخراج نمایند و آهسته آهسته شرکت‌ها با شکست مواجه بودند.

## ژوند

## د زردالو موسم دی، له ګټو یې خبر شئ!



**د وینې د کموالي مخنیوی کوي**

کم خوني هغه حالت دی چې په بدن کې د وینې سره کرویات کموي او یا هم هیموګلوبین د وینې په سرو کرویاتو کې تر ټاکلې اندازې کمېږي، چې د اوسپنې له کموالي څخه پېښېږي. په زردالو کې د اوسپنې موجودیت د دې لامل کېږي، چې په وینه کې سره کرویات ډېر شي.

**قبضیت له منځه وړي**

د هغه چا لپاره چې اوږدمهاله قبضیت ولري، د ورځې له ٦- ۸ زردالو خوړل ډېره ګټه لري؛ ځکه چې په زردالو کې په زیاته اندازه فایبر موجود دي. زردالو په خپل ترکیب کې الکالین (alkaline) هم لري چې د هاضمې له سیستم سره پوره مرسته کوي.


**د سترګو لید زیاتوي**

زردالو د سترګو لید زیاتوي او د شبکورۍ له ناروغۍ څخه مخنیوی کوي. دا ځکه چې زردالو په خپل ترکیب کې په زیاته کچه ویټامین A لري چې د سترګو لید د زیاتوالي لپاره اساسي عنصر دی.

**تبه له منځه وړي**

د زردالو جوس د تبې لپاره غوره علاج دی؛ ځکه چې زردالو د انسان بدن ته مهم ویټامینونه، منرالونه، کالوري او اوبه انتقالوي چې د انسان د سترګو، معدې، ینې، زړه او رګونو د یخنۍ او آرامتیا سبب کېږي.

## ماشومان ولې بهانې لټوي؟



ډېری میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو له بهانې غوښتلو ستړي کېږي او له هغوی سره سخت چلند کوي. بهانه غوښتل هغه مهال را منځته کېږي، چې ماشوم په کوم کار کې له ناکامۍ سره مخ شي یا د خپلو احساساتو د څرګندولو توان ونه لري. ارواپوهان پر دې باور دي او وايي چې ماشومان په دوه کلنۍ کې د بل هر وخت په پرتله ډېر بهانې غوښتونکي کېږي. معمولاً په ماشومانو کې ناکامي هغه مهال رامنځته کېږي، چې نور یې په خبرو نه پوهېږي یا د کوم کار په اړه له حده ډېره هڅه کوي.
نور هغه مسایل چې په ماشومانو کې د بهانې غوښتلو سبب ګرځي، په هغه کې د اختلاف شتون دی. د بېلګې په توګه یوه ورځ خواړه نه خوري، تاسو په ډېرې مهربانۍ نور خواړه ورته چمتو کوئ، خو که په بله ورځ یې چې له خوړو ډډه وکړه، نو له هغه سره سخت چلند کوئ. دغه اختلاف ماشوم له ناکامۍ سره مخامخوي.